

پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

# زموږ د هیواد له نومیالي ژبپوهاند ، ادبپوهاند ،مخکښ شاعر، لیکوال، علمي او اکاډېمیک شخصیت استاد پوهاند زیار سره مرکه

## مرکه وال: انجنیر عبدالقادر مسعود

د بلې هرې بشري ټولنې په څېر زموږ پښتني- افغاني پوهان او فرهنګیان هم د خپلې ټولنې د پرمختیايي بهیر لوکوموتیف بلل کېږي. او په دې توګه د خپلو وګړو او پرګنو د ښوونې، ویښونې او لارښوونې چاره پر مخ بیايي. د تېرمهال،

وسمهال او وستر مهال يو روڼ او روښان انځور يې مخې ته ږدي. له خپل ملي پېژندنښو او ارزښتونو او په پای کې يې له ځان او جهانه خبروي.

زموږ د وسمهال او بيا لومړني اکاډېميک پښت د پوهې او فرهنګ له مخکښو استازيو او ځلاندو څېرو څخه، چې نژدې شپېته کاله يې د خپلو هېواد والو زړونه او ذهنونه د نومهالې پوهې او فرهنګ په وړانګو وړانګن ساتلي دي، يو هم زموږ د هيواد نوميالی پوهيال، انديال، فرهنګيال او جنګيال او ځو اړخيز منلی شخصيت ژبپوهاند او ادبپوهاند، ليکوال، رسنوال او تکړه وينا وال پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار دی چې د اند و ژوند د يوه لنډ جاج په ترڅ کې يې ورسره کړې مرکه ستاسې پښتو او پښتون مينو لوستونکيو مخې ته ږدو:

## د پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار اندوژوند:

پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار (۷۴) کاله وړاندې د ننګرهار د مزينې رود په حصارک کې د ژوند پرمخ سترګې پرانېستې. لومړنی ښوونځی يې په خپل کلي او کامه کې په خوارۍ او مزدورۍ سرته رسولی. تر څلور کلنو ديني او ادبي زده کړو وروسته يې د کابل په شپږنيو منځنيو او دويمنيو ښوونځيو "ابن سينا او دارالمعلمين" کې د زده کړو چانس لاسته راوړی دی.

پر (۱۹۶۲) ز. کال يې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو له پوهنځي څخه بريليک ترلاسه کړی دی. د دغه پوهنځي د پښتو او ژبپوهنې د څانګو د پوهنيز - څېړنيز غړي په توګه يې څلور کاله د افغانستان د ژبپوهنې د اتلس رغاونې د پروژې له مخې د پښتو او يوشمېر نورو لږه کيو ژبو څه له پاسه سل ګړدوده (لهجې) د هېواد له ګوټ ګوټه راټولې کړې او څېړلې دي.

ده په سویس کې له (۱۹۶۶تر۱۹۷۲ز) کال خپلې زده کړې پر مخ یوړې او د آریاني ژبپوهنې ، ادب پوهنې او توکمپوهنې په څانگو کې یې ماستري او دیفل دوکتورا ترلاسه کړل. هېواد ته یې له ورستنېدو راهیسې څه له پاسه درې لسیزې د کابل پوهنتون د اړوند پوهنځي د پښتو ژبې او ادب ښوونه پرمخ یوړه..

له (۱۹۸۴-۱۹۸۶)ز. یې د برلین د هومبولت پوهنتون د ختیځپوهنې په څانگه کې د مېلمه استاد په توگه د افغانستانپوهنې د ښوونې چارې سرته رسولې او دوه کاله (۱۹۹۴-۱۹۹۶)ز. یې د پېښور پوهنتون د پښتو ماستري او ډاکتري څانگې د

(Visiting Professor) په توگه دنده پرځای کړې او راوروسته یې پر(۱۹۹۶)ز.

د کورني پیوستون (Family Reunion) پر بنسټ د انگلیستان په پوهنتوني

ښار "اکسفورډ "کې د مېشتیا ربنته په برخه شوې ده.

دغلته پر لیکنو او څېړنو بوخت دی او د اړوند پوهنتون ماستري او ډاکتري نوماندانو ته د لکچرونو ترڅنگ د تېزسونو لارښوونه کوي او په ترخ کې د لندن او کېمبریج پوهنتونونو له آریانپوهانو سره خپله همکاري هم پرمخ بیایي.

## څېړمه چارې او دندې:

(۱۹۷۲-۱۹۷۵): د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د ورېمې مهالنۍ او نورو پښتو خپرونو چلونه.

(۱۹۷۸-۱۹۷۹): د افغانستان د علومو اکادېمۍ د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز مشري.

(۱۹۸۰) : دملي موزیم او ملي ارشیف د بیا رغاونې د کمېسیون غړیتوب.

(۱۹۸۰) : د افغانستان د سولې ، پیوستون او دوستۍ د سازمان مشري.

(۱۹۸۰-۱۹۸۴) : د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي مشري.

له (۱۹۹۱) راهیسې د علامه سید جمال الدین افغان د فرهنګي ټولنې مشري.

استاد پوهاند زیار د خپلو ارزښتمنو لیکنو څېړنو ، پنځونو ، ښوونې او روزنې په وسیله زموږ د پښتو ادب بڼ رنګین او ښیرازه ساتلی دی. د ده د قلم په وسیله په دغه بڼ کې په پرله پسې ډول نوي نوي ګلونه را ټوکیږي او غوړیږي. د ده د علمي او تحقیقي آثارو شمیر (۱۳۰) ټوکو (کتابونو ) او (۳۱۰۰ )لیکنو ته رسیږي. دا لیکنې د نورو څېړنیزو - لیکنو تر څنګ هغه رسنیزې لیکنې او شننې دي چې د هیواد په ورځپاڼو ، مجلو ، مهالنیو خپرونو ، رادیو او تلویزونونو کې په هیواد کې د ننه او بهر په پښتو ، دري انګریزي او آلماني ژبو خپرې شوي دي. د ده علمي او ادبي هستونې او ژباړنې په درو برخوکې را لنډېدای شي:

## ۱- پوهنیزې څېړنې

پښتو نومترنګونه یا اسمي ترکیبونه (په الماني ژبه)، پښتو پښویه (ګرامر)، پښتو ویي پوهنه، پښتو لیکلار، پښتو شعر څنګه جوړیږي، پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې، پټه خزانه یوه لغوي خزانه، پښتو سیندګی (هممانیزونه)، پښتو سیندګی (نویزونه)، انګریزي- پښتو سیندګی (سربلونه + اوستر بلونه)، د خوشحال ادبي پښتو، د یوې کره پښتو لیکلارې لارښود، د ژبپوهنې بنسټونه، غږپوهه او د پښتو پښویي (ګرامر)، د ربیمه بشپړه او کره پوهنتوني (اکادمیکه) خپرونه. همدارازیې د پښتو آرپوهې (اېتمولوجۍ) رومبی ټوک (ا - ب – ت - ټ) تر چاپ لاندې دی او د نویزونو (سیندګي) غځېدلې بڼه هم چاپ ته نوې چمتو شوې ده.

## ۲- ژباړنې

پښتانه او ورونه ملیتونه، د کنیشکا د سره کوتل ډبرلیک (له الماني ژبې )، پټه خزانه (پر الماني ژبه) او ګڼې دوه اړخیزې (پښتو- الماني ) او (پښتو- انګرېزي )

## ۳- ادبي (پېبیلې او نا پېبیلې ) ټولګې

زنداني نغمې، سوزونه او سازونه، وینه او مینه، ګلکڅونه، ګلولې، اندوژوند ، اندو واند ، رزم و بزم، پوهه او ګروهه، د سبرونو نڅا ، ګلیبونه، څڅواکي، زما نړۍ، د مرجانونو ځانګې، نوې پېړۍ او نوې زرۍ، اور و وینې، ساندې او سندرې، مینه د زړه په وینه (ناول ) او ناپېبیلې ( نثري ټولګه )او یو ګڼشمېر نورې ناچاپه پېبیلې او ناپېبیلې ټولګې.

پر دغو ټولو علمي - فرهنګي هلو ځلو سربېره د افغان - پښتني ټولنې دغه هڅاند او نوښتګر پوهاند او لیکوال نژدې ځلوېښت کاله د "یوې - کره لیکنۍ پښتو "او " نوي - ازاد پښتو شعر "غبرګ غورځنګونه هم له سترو بریو او بریاوو سره پرمخ وړي او له دغه پلوه یې هم د خپلې ژبې او ادب د نړیوالې سیالۍ د جوګه کېدو لپاره یوه بېساري اغېزمنه ونډه پرځای کړې ده ( اکسفورډ ،نوېمبر ۲۰۱۱ ) .

استاد عبدالروف بینوا زموږ د هیواد پیاوړی او نومیالی لیکوال او شاعر د استاد زیار د (ګلکڅونه ۱۳۶۲ ) نومې شعري ټولګې په تړاو داسې لیکي:

((...ده دا خپل ګلکڅونه یوازې د زلمیتوب د مینې او هوس لپاره حصار کړي نه دي، بلکې د خپل هېواد ، د خپل ولس او د اوسنۍ نړۍ د ټولنیزو نابرابریو هغه نارې سورې او کوکې یې هم په کې وهلې دي، چې د ده انساني عواطف یې لړزولي او بشري احساسات یې ورپارولي دي.... ))

استاد زیار یو خورا ډېر کاری او نوښتګر پوهیال، اندیال، لیکوال، رسنوال، ادبي او ټولنیز نقاد ، محقق، ژبپوه، ادبپوه، توکمپوه، تاریخپوه، څېړونکې، داستان

ليکونکی، ژباړونکی، اديب او شاعر دی. دی له ژبې او ژبپوهنې سره د وبله اړيکو له لارې پر بېلابېلو اجتماعي علومو لاسرسی موندلی او له تاريخ او فلسفې رانيو لې تر توکمپوهنې، ادبپوهنې او ان پښتو بدلمېچ(ميزان الشعر ) پورې اړوندې ليکنې څېړنې د ژبپوهنې له ګوټپېره ترسره کوي او په دې توګه د بېلابېلو مشترکو څانګو، لکه ژب- ادبپوهنې، ژب- فلسفې، ژب- ساپوهنې، ژب- توکمپو هنې او داسې نورو مېټالنګويستيکي (ماوراءالعلم اللسانی ) پوهنيزو شننواو ارزونو کې يو ځانګړی علمي- تحقيقي مېتود او لارو لېله پر کار اچوي.پخپله د ژبپوهنې ساينتيفيکې څانګې يې، لکه غږپوهنه –د غږونو د زيږ(توليد ) له پلوه له ژوند پوهنې (بيالوژی ) او (نوري ) فيزيک، بيا ديته اړ باسي چې لابراتوار ته هم سروردننه کاندي، همداراز د آرپوهيزو (ايتيمولوجيکي ) څېړنو لپاره لرغونپوهنې او ډبرليک پوهنې (epigraphy)ته مخه وکړي.

اکادميسن کانديد ښاغلی داکتر اکرم عثمان، چې زموږ د هيواد يو وتلی او نامتوليکوال او نومیالې کيسه ليکونکې او دلوړقلم خاوند ښتن دی، په خپله يو ليکنه کې د استاد زيار دادبي او فرهنګي شخصيت په اړه داسې وايي:

((... زندگينامه و کارنامه های اين دانشمند فرزانه بارها بر پيشانی نامه های چاپی اعم از روزنامه ها، هفته نامه ها، ماهنامه ها، سالنامه ها نقش بسته اند و همگان واقفند که" پروفيسور زيار" مردی خود ساخته و خدا خواسته ميباشد. و در کارزار زندگی رهين بازوان زورمند و خستگی نا پذيرش ميباشد که يک عمر در برابر ناملايمات و شدايد زندگی رزميده و از او قلمزنی آهنين پنجه و بی ترس ساخته است.

پوهاند زیار چنانکه واقفیم او در دوران تحصیل در داخل کشور نه فقط پژوهندۀ ممتاز و استثنایی بوده بلکه در خارج از افغانستان نیز خوش درخشیده و مراتب کمال علمی را چنانکه باید تا آخر پیموده است.

خالی از هر تردید و تعارفی او در گستره های زبانشناسی تالیفات معتبری به چاپ رسانده و در عرصه های ادبیات ایجادی و آفرینشی نیز نوشته های ماندگاری آفریده است.

او در زبان پشتو شاعری برجسته و شیرین کلامیست و مضامین گونگونی از جمله موضوعات اجتماعی، عاطفی و تغزلی را تجربه کرده است او در آن شعرها آگاهی ارجداری را پرورانده است.

او در آثارمنثورش هم زبان گیرا و شیوا دارد. در هجرت نیز با ملاحظه شرایط آواره گی و دوری از وطن شاغل کارها و فعالیت های انسانی ، فرهنگی و مطبوعاتی چشمگیری بوده گرداننده و برگزار کننده محافل علمی سودمندی بوده است ، سخنانش همواره تابع نیاز روزگار و جامعه بوده و از آزادی های قلم و اندیشه دلیرانه پشتیبانی کرده است.

درباره این دانشمند بلند اندیشه هرچه بنویسیم باز هم کم نوشته ایم. او در کار مردم پروری، درون پروری و مضمون پروری از پیشکسوتان جامعۀ روشنفکری ماست.

او ناظری تیزبین برروح زمانه ما می باشد. باشد که از برکات پرداخته های او روز تا روز دل و دماغ مردم ما بیشتر باز شود و این شخصیت وسیع المشرب و پاک رأی کماکان بر تارک ادبیات و فرهنگ ما بدرخشد.... ))

پوهاند زیار پر رسمي پوهنتوني کچ د پښتو ژبې او ادب د لومړني اکاډېميک استاد په توګه سم نيم ژوند ښوونې (تدريس) ته ځانګړی کړی او تر بل هر نومهالي استاد يې ډېر شاګردان روزلي، پاللي او ثمر ته رسولي دي.او له ټولګي(کلاس) را بهر يې هم د پښتو ژبې او د پښتو ادب او فرهنګ لپاره په بيلابيلو برخو کې او د پښتو ژبې د روزنې، پالنې، ودې او پرمختګ په اړه بې ساري ، ګټور او ارزښتمن کارونه او د ستاينې او يادونې وړ خدمتونه ترسره کړي دي، او د پښتو ژبې لمن يې درنه کړې ده. ده په سلګونو علمي او تحقيقي مقالې د ژبپوهنې او بيا آريانپوهنې په برخه کې په ملي او بين المللي کچه ليکلي دي. ده د پښتو نيولوجيزم ته ځانګپوهيزه او پرله غښتې(مسلکي او سيستماتيکه) بڼه ورکړې چې د وييپوهنې په درسي کتاب کې يې په دغه تړاو نومهالې علمي مېتودولوژی آرونه او دويونه (اصول او قواعد) پر ګوته کړي دي. مخبېلګې يې هم له زړو متونو او ګړدودونو راټولې کړې او په دې چم يې د پرمختللو ژبو په څېر د ځلورګونې پښتو وييپانګې بنسټ ايښی دی.

استاد عبدالروف بينوا د زيار صاحب د ادبي او فرهنګي شخصيت په اړه داسې وايي:

((...که څه هم د شينوارو په (حصارک) کې پيدا شوی دی، خو له کوشنيوالي څخه نه حصاربدونکی طبيعت لري. ځکه يې نو(زيار) ځانته تخلص ټاکلی دی چې د ده د تلاش، سعې، فعاليت او تجسس ښکارندوی دی... څو کاله وروسته چې وطن ته راځي، د ژبپوهنې متخصص او د پښتو ژبې د ګړدود د وچ ډګر ستر ګړدودوال څنې جوړ شوی او د نويو وييونو(لغتونو) په جوړولو کې يې هم لوی لاس موندلی وو....))

د پوهاندزیار علمي او ادبي شخصیت یوازې په پښتو ژبه پورې اړه نه لري، ده په نورو ژبو هم لیکنې کړې دي. ده په پارسي ژبه کې پر شعر سربېره په زړه پورې څېړنیز آثار هم لیکلي دي. دی په انګلیسي، الماني، روسي، عربي او نورو لرغونو اروپايي او آريايي ژبو پوهېږي. د ده علمي، ادبي او فرهنګي شخصیت زموږ د هیواد په ټولنیز، سیاسي، علمي، ادبي او فرهنګي محدوده کې محدود نه دی پاتې شوی. د سیمې او نړۍ پر کچ یې آثار د پاموړ او اخځوړ دي او په اړوند څانګپوهیز ډګر کې د پوره نوم او نښان خښتن دی. د هېواد د ننه او دباندې په ډېرو علمي، فرهنګي او سیاسي پوهنغونډو او سېمینارونو کې ګډون کړی، او خپلې لیکنې او ویناوې یې پکې اورولي دي. له اروپايي او امریکایي آریانپوهانو او افغانپوهانو سره څانګپوهیز اړیکي پالي، همکاري او راکړه ورکړه ورسره لري او هغوی ورته د یوه ستر علمي ، سیاسي او ملي مفکر، ژبپوه، ادبپوه، توکمپوه او اکاډېمیک شخصیت په سترګه ګوري.

ښاغلی صدیق کاوون طوفاني چې زموږ دهیواد یو پیاوړی او نوښتګر شاعر او ټولنیز شخصیت دی ، د استاد زیار د علمي او ادبي شخصیت په اړه داسې وايي:

((... پوهاند ډاکتر مجاور احمد زیار زموږ د هېواد دهغو سترواو نومیالیو فرهنګیالیو له ډلې څخه دی چې خپل ټول ژوند یې علمي او فرهنګي چارو ته ځانګړی کړی دی.

د زلمیتوب له کلونو بیا تر اوسه په نه ستړي کېدونکې او پرله پسې توګه په پوهنیزو څېړنو ، علمي لیکنو او شعري هستونو بوخت دی. لیکنې او پلټنې یې د پښتو د اوسني پښت د ادبي هاند وهڅو د لارې مشالونه دي.

زیار صیب د خپلو نورو سترو کارونو تر څنګ، د نویو ژبپوهنیزو او ادبپوهنیزو لارو چارو په دودونه کې خورا ډېر زیار اېستلی او له بې شمېره ستونزو سره یې مبارزه کړې ده.

په اوسنۍ پښتو ژبه کې د ښاغلي ډاکتر زیار د قلم له برکته اوس اوس یو زیات شمېر داسې لغتونه اوګړنې استعمالیږي چې څو کاله مخکې چا اورېدلې هم نه وې او پر ځای یې د نورو ژبو له تورو او لغتونو څخه کار اخېستل کېده.

همدا راز په زغرده ویلای شم چې ډاکتر صیب زیار د پښتو د آزاد شعر له ښاغلو او ویاړلو سرلارو څخه دی چې په خپلو هستونو یې پښتو ادب او په ځانګړې ډول پښتو شعر ته ښېرازي او رنګیني بښلې ده....))

استاد زیار د خپلو علمي، ادبي او اکاډېمیکو فعالیتونو تر څنګ خپل انساني احساسات او عواطف، لوړ خیال او ژور فکر د شعر په خوږه او پسته ژبه هم څرګند کړي دي. د استاد زیار نثري او شعري هستونې، نه یوازې له څرنګیز، بلکې له څومره ییز پلوه هم درېکار تر بریده رسولې دي. د یادونې وړ ګڼم، چې ده د پښتو شعرونو تر څنګ پارسي، انګلیسي او الماني شعرونه هم لیکلي دي. اروا ښاد بیرنګ کوهدامني، چې زموږ د هیواد د پارسي ژبې یو تکړه او نوښتګر شاعر وو، په خپله یوه لیکنه کې د پوهاند زیار صاحب د ادبي او فرهنګي شخصیت په ارزونه کې داسې کاږي:

((...ګذشته از این، دکتور مجاور احمد زیار در راه تشکل زبان واحد معیاری و ادبی پشتو و وضع دانشواژه های نوین پشتو در برابر برخی اصطلاحات و واژه های خارجی کوشش های بایسته ی به سامان رسانیده است که بر ارباب علم و ادب پوشیده نیست. پوهاند دوکتور زیار را میتوان از پیشګامان شعر آزاد پشتو دانست که از سال های پیش قالب سنتی را شکسته ودر اوزان آزاد تجربه های کرده

که راه او را دیگران دنبال کرده اند. کوشش های این زبانشناس شاعر در راه نجات شعر پشتو از ابتذال و توقف نیز درخور یاد آوری است که با جسارت یک شاعر و منتقد نترس درین راه همیشه مبارزه کرده است.... ))

استاد زیار د نړیوالې سیالۍ په موخه بېلابېل څېلونه(فورمونه) ازمایلي او رادود کړي دي. غزل چې په دودیز ډول له پېنځخپېزه تر شپاړس څپیزه رسېده، ده له دوه څپیزه تر اتهویشت څپیزه ازمایلی او ازاد او په تېره سپین شعر یې تر(۵۲)څپیزه پورې غځولی دی چې په پښتو بدلمېچ ((پښتو شعر څنګه جوړېږي)) کې په زړه پورې بېلګې سهي کولای شو.

پوهاند علامه عبدالحی حبیبي یووخت د زیار صاحب په اړه کښلي ول:

((... د پښتو د اوسني شعر د تنکي بڼ یو بل غوړېدلی ګل دوکتور زیار دی. په زړو قالبونو کې نوي موضوعات ځایوي، خو په دې وروستیو کې یې د شعر فورم هم اوښتی او د فورم او فون په لحاظ منظومې نویوالی لري.... ))
په رښتیا سره، استاد زیار د نومهالی نوښتګرانه پښتو شعر و ادب هغه سرلاری شاعر دی، چې په دې برخه کې یې د نورو شعري فورمونو تر څنګ د آزاد او سپین او ان ناپیلي(منثور) شعر یو زړور لاربنود او مبلغ پاتې شوی او په دې لاره کې یې، د کاوون توفاني صاحب په تایید ډېرې هلې ځلې او سرسخته مبارزه کړې ده.

اجمل ختک، چې یو وتلی، تکړه او نامتو شاعر تېر شوی، د زیار صاحب د شاعرۍ د ملي او انساني ولولو او عواطفو په اړه داسې وایي:
((... زیار په سینه کې د شاعر زړه هم لري او ژبه هم، د یو داسې شاعر زړه چې د ښکلا او مینې خوندونه او دردونه هم محسوسولای شي او د ژوند او محنت ارمانونه او محرومیتونه هم. دی داسې شاعر دی، چې ژبه یې د خپلو خواهشاتو له تاوه نه تاوېږي، بلکې د خپل محیط او انسانیت په غم ککړه ده، د انسان د ژوند له هرې

موضوع، مضمون او کار سره خپل تعلق ځرګندوي او له هر تعصب او تنګ نظرۍ نه پرته په خلوص، بلکې لېونتوب سره خدمت کوي.)) دی همدا رنګه زیاتوي: ((زیار د خپلو شخصي خواهشاتو په خوب ویده شاعر نه دی، د خپل هېواد او ولس په غم لړلی، بیدار لیکوال دی. زه هر وخت زیار صاحب او د ده ذهن د تحقق او څېړنې په کار کې مصروف وینم. د ده شعرونه د ده د ذهن پیداوار دي....))

استادزیار صاحب هغه نومیالی، هېوادپال ، زړور ، دټینګ هوډاو وېلاړ، د درانه او سپېڅلې ګروهې او ایمان خاوند شخصیت دی چې د پښتو ژبې او ادب و فرهنګ د غوړېدا او پیاوړتیا لپاره یې ډېرساري هلې ځلې او لارښوونې کړې دي.

ښاغلی ګل افضل ټکور، چې یو پیاوړی شاعراو تکړه لیکوال دی، په خپله یوه لیکنه کې دا استاد زیار په اړه داسې وایي:

د خوشحال قدر که اوس په هیچا نه شته

پس له مرګه به یې یاد کا ډیر عالم

((...د پوهاند صاحب زیار د شخصیت ډیر اړخونه دي ، دهغه دژوند او اند په هره برخه ډیر څه لیکل کیدلی شي، استاد دپښتو ژبې لو ی عالم ، ژبپوه، خوږ ژبې شاعر لیکوال څیړونکې او ډیر مهربانه استاد او لار ښود دی. زه خپل ځان ډیر نیکمرغه بولم چې استاد له ډیرو کلونو راهیسې له نژدې نه پیژنم ، او له هغه نه مې ډیر څه زده کړي او اوریدلي دي ، عمر یې ډیر او په قلم یې برکت شه ، چې خواږې پښتو ژبې ته نور هم ګټور او تلپاتي علمي او ادبي اثار وړاندی کړي....))

استادزیار د یوه ځانګړي شاعرانه سبک و ستایل څښتن دی. په ډیرو لوړو خیالونو او نوښتګرانه انځورونو او سېمبولونو کې ژوره ټولیزه انساني او بیا پښتني-افغاني مینه رانغاړي. دهېواد و د هیوادوالو ستونزمن ژوند ، ژغورو

ازادي، سوله اوسوکالي ، ځانواکي او ولسواکي ، پښتني او افغاني ارزښتونه انځوروي، او بيا په ټوله کې د نړيوالې سيالۍ لپاره سوچ کوي ، لکه په دې شعرونوکې:

## د شعر ګلپېغله

توره شپه و ترهېده،

چوپه چوپتيا ورسره و رېږدېده،

د کاروان ستوري اسمان لار و نيوه...

شعر راوټوکېده.

* * *

د هريو شعر پيل و پای

که لوی ښتن په خپل قلم ليکلی،

خو ته يې هرګوره

زما د هريو شعر د تول و تال ګلپېغله !

لندن، (۲۰۰۸/۸/۸)

## د وېلاړ مټره

ارام جهان،

ارام انسان...

څه خوب و خيال،

څه ګرانه هیله، اسره،

څه پاک سپېڅلی ارمان !

*　　*　　*

ځومره ناپایه غځېدلې لاره،

ځومره نغښتلي واټونه ترشا ،

ځومره لا مخ ته نانغښتلي پاتې؛

یکې نکونښلې څه بېشمېره مرجاني قافلې،

یکې لوټلې ځومره لا ډېرې وربښمینې جوپې !

*　　*　　*

خو بیا هم خوښې چې یې ژوند سا اخلي لا

او د لا نوي وېلاړ متري په ملتیا بدرګه،

درومي پرمخ د لا ویاړلو ارتو بیرتو ګلورشوو پر لور !

اکسفورډ ، (۲۰۰۸/۹/۱)

اویا:

یه لالهنده روده

یه د سپین غر له سپینو سترګو

رابهانده روده،

یه مست څپانده

لالهانده روده !

دا ترانې

چې د شپو پر شونډو ستاکړي

غځونې هسې،

زما پر ژوبل زخمي زړه

راوروي تېر هېر یادونه

پرله غښتي پسې،

هغه کیسې چې یې یو ته پرې خبر،

خو یې بل هېڅاته ویلای نه شې !

ته وا،

زما په څېر دې زړه

له ناویلو ویرژړلو داستانونو ډک دی

او بس راباسې یې د زړه له تله

د ګونګو ګونګو فریادونو،

ترانو په ژبه...

یه لولنګره لالهانده روده،

یه د سپین غر له سپینو سترګو

رابهانده روده !

مزینه، (۲۰۰۸/۴/۱۲)

او یا:

د باد پر وزرو

یو گوربت یم، د وېلاړ له دنگو غرونو راالوتی

نه د چا د دانې ښکار او، نه دچا په دام کې نښتی

د تاریخ نیاوتون مې للي، سپیناوی په هسکه غاړه

نه مې سترگې چاته ټیټې، نه د چا پښوته پرېوتی

څه د وخت ټگۍ برگۍ او، څه زما رښتینولي وه

که پردا دومره سپین نمرو، دېوتا یانو یم تېروتی

که مې څه هم دی برخلیک، دښنو د باد پر وزرو کښلی

خو له خپلې مینې هوډ، اورین ارمان نه یم جاروتی

د توپان مرغه په شان کښم، خپله لار په غرڅپو کې

نن سبا که یم په بوښته، د ناخوالو کې کښېوتی

په تورتم کې ما بلینده، بله ساتلې د سره شعر،

د ازمون له سرې بټۍ، لکه پولاد مخسور راوتی !

ډنمارک، (۲۰۰/۱۰/۲)

اویا:

د اواز سیوري

نوري دا يوا د اهورا د مزدک ځلي زما

د اواز سيو ري اهريمن په غشو ولي زما

ما هر طاغوت ته د ايمان په مټ ورکړې ماته

دي يې ډالونه په توبرو د برم سکڼلي زما

ما د بهمن په پاک قلم واړه له سره وکښل

چې د ازل قلم په برخه ول ليکلي زما

را سپېرې کړې يې چې تل د پاکې مينې مېنې

نه شي له هسې شان کورګډو سره کلي زما

په سره کوره کې د ازمون يم ازمايلى زمان

دي يې کره له هر کوره کوټه چاڼلي زما

په مړو رګوکې مې د شعر نوې ساپو کلې

دي يې وييونه د اند واند ګوتو پېيلي زما

څنګه پناه د مرګاني چوپتيا ځنګله ته يوسم،

دي په ارمان د اورنۍ مينې ټول ښکلي زما !

اکسفورډ، (۲۰۰۰/۱۰/۷)

اويا:

د ا. ننګيال په ياد:

سپين سپېڅلى شعر

سردې راهسک له تورو خاورو کړه

ننګیاله !

سترګې دې یو ځلې بیا وغړوه

او وګوره په غتو غتو یو وار

چې ستا تر مرګ راوروسته

-په تېرو څو کلو کې-

څومره ناخوالې، بخولې دې نورې،

ستا پر کورکلي چم ګاونډ راغلې !

یو ځلې بیا قلم راواخله پسې

او واړه وپېیه یو مخ

په مرغلین کې د وربښمو د شعر،

ها د لړ- پښبلې له بېړیو ازاد،

د تول و تال له اتکړیو ازاد،

هغه رنګین سپین و سپېڅلی شعر !

خدای مکړه،

هرڅه شي له سېلمې

ناویلې، نالیکلې پاتې

او د تاریخ له یاده ووځي

بې کرښپله،

د تل لپاره،

تل تر تله ! !؟

اروپا پارک، (۲۰۰۸/۵/۳۱)

اويايې له ساده او تولپوهيزو بېلګو څخه:

د استاد حمزه په ژبه

پرون دې پرېکړې د جرګو په ژبه

نن دې هر څه د ولولو په ژبه

درنه پښتو ده هېره شوې که څه

چې اوس غږېږې د وسلو په ژبه

څو به په څو يې زما وينو ته ناست

څو به مې وژنې د دښنو په ژبه

که وو تربرونه خو پردو ته يو وو

ولې پردي شو د پردو په ژبه

له ولس وځه خوله نرخ مه وځه

درته يم سر د پښتنو په ژبه

...

څو پارسي بېلګې:

## تپش جاودا ن

جاودانه اند

موج های خون سرخ شهیدا ن میهن من،

منم

تپش توفانزای این امواج

و فرزندان من اند

در راه فرداهای تابناک وطنم .

تپش ایستا یی نشناس موج های خون شهیدا ن میهنم .

منم

من موج توفانی ام،

جهانی در شور می آید

از هر قطره ی آن

سیلا بها است درآن ...

و من

به پیش میروم با انقلاب،

انقلابی که میدراند کوه را

و بر نمی گردد ،

به پیش می تازم من.

با قلب پرتوان آسیا می تپد

قلب من

و باز نمی ایستد

-هرگز-

از تپیدن .

ای میهنم را دشمن !

می گویم به تو باز،

انقلابم را دشمن

نمی میرم من

زنهار !

در سینه ی من بیدار است

قلب سرکش آسیا ،

و در رگ رگ جسم کهن سال آسیا

جاریست

خون جوان اندیشه های داغ من...

و

مرگ آسیا است

مرگ من،

و

مرگ دنیا

مرگ آسیا ! ! !

(۱۳۵۹/۹/۵) پوهاند م.ا. زیار، کابل

نا م تو

می درخشد

-تا-

خورشید ،

تا زمان هست و جهان هست

و زمین،

نام تو

جاویدان خواهد ماند.

*        *

توأمان اند

به عمق تاریخ

نام انسان و جهان و نام تو ...

ختم تو

ختم انسان است،

ختم نام تو

همانا ختم جهان است

و ختم انسان!!!

(سنبله ۱۳۶۰)

## پرستش

آب و خاک و باد و آتش،

سنگ و ستاره و خورشید و ...

همه را پرستیدیم

و به نیایش نشستیم ...

ولی این همه

ما را باهم یگانه نساخت،

هر روزی از یکدیگر دورتر گشتیم...

پس بیایید:

زنده گی را پرستیم

و،

به خاطر زنده گی بهار صلح و آزادی را !!!

دکتور زیار- برلین، (۱۹۸۵/۱۱/۱۲)

## با شنیدن خبر درگذشت شاعر زنده یاد

احمد شاملو :

دیر گزین معبد خورشید

چگونه باور باید کرد

آن واپسین عیاری

از دیار شعر و سخن

دیگر به جاویه گان پیوست،

فرمانروای هراس نشناسی که

حدود و ثغور قلمرو شعر را

تا فرجامین مرز شهادت

از آن خود ساخت

و هنوز خونین ترانه هایش

-همچو شطی خروشان -

بر بستر لب های مغضوبین قرون

جاری اند!

چگونه باور باید کرد

آن قافله سالار بی بدیلی که

از تنگنای مرگ و نابودی

فراتر گام نهاد

و محکومین سیاه دل ترین دژخیمان

-ازآنسوی سده های تحجر-

هنوز روشن واژه های چکامه هایش را

تا چوبه ی دار بر دوش میکشند!

چگونه باور باید کرد

آن واپسین تک ستاره ی کهکشان ها

هرچی فراتر از فراز سپیدارهای نور

گذشت

و جاویدانه به معبد خورشید

کوله بار اقامت افگند...

درود بی پایان

به آن دیرگزین معبد خورشید بادا!

دکتور م.ا. زیار، اکسفورد-اگست (۲۰۰۲)

تندیس ها

نمادهای شاعرانه،

تصویر ها

و واژه های زرین نمادین را

که زن را، -

این شاهکار آفرینش را ،

تا مرز الهه، بت، صنم

بالا برده اند

و ستوده اند...

از چشم حسود بنیادگرایان،

پاسداران جهل

-و زن ستیزان

برای همیسه پنهان دارید:

تا مبادا

او را

مانند تندیس های بودا

یکسره،-

خاکستر نموده و نابود سازند !!؟

دکتور زیار، اکسفورد (۲۰۰۱)

- ده په خپلو شعرونو کې د پښتني چاپېريال او د ټولنې غميزې، کړاوونه، ناتارونه، ستونزې او نيمګړتياوې، د ژوند دردونه، او د کړکيچنو او تراژيکو جنګي حالاتو پېښې، پاړکيزې ناخوالې او نادودې ځلولې او د هغو د بلهارو، زور ځپلو، بېوزلو، زيارکښانو، کونډو رنډو او يتيمانو سره خواخوږي يې په ډېره زړه

سوانده او نړه ژبه داسې انځورلي چې د هر با احساسه انسان عواطف راپاروي، لکه واخلې دا لاندې ښو بېلګې يې:

پاک ایمان

ښو مره زغمم ناورینونه ، خو جهان راخبر نه شو

په دا دومره ستورو سترګو روڼ اسمان راخبر نه شو

دا په څه چم دانګې وانګې، کړم د تور وحشت داړونکو

په ټول ښار کې غوړېتر غوږه ، یو انسان را خبر نه شو

له کلو مې په تکل د وچکالۍ تللی له چمه

خزان لوټ کړه پسرلي مې او باران را خبر نه شو

زه ستا یوال یې لکه چونې، د ګلونو چمنونو

تور پانړیز ژبه راپرې کړه ګلیستان را خبر نه شو

غلیا کګرو د وختونو ، ترې منزل موخه ختا کړل

خو هېڅوک له دې تالا والا کاروان را خبر نه شو

څه بې شمېره لېونو مې، پکې بایلل خپل سرونه

د بلهارو وینو ترۍ ، وچ بیابان را خبر نه شو

تر دې زیاته ببلوري به ، په نړۍ کې چا لیدلي

چې رقیب مې وینې وڅښلې ، جانان را خبر نه شو

...

او یا:

اغزن سیم

لکه غوټۍ ګل لـه نسیمه نـــــه یـو

راشنه اغزي د چـا پر سیــمه نــه یو

که زور ایمان مو ورښــوولي دي هـم

بیا هــــم بېغمه لـــه غلیمه نه یــو

موږ ورشلولي دار رسۍ او زنــځیـر

که یې راوتــي لــه دژخــیمه نــه یو

...

- د ده په شعري وینا کې د طبیعت هنري ښکلا او په زړه پوري مناظر، د پېمخو او ښاپیریو ښایست ، حسن او جمال، عشق او محبت، راز او نیاز، د مطربانو او مستانو او رندانو د سوز او ساز سندرې په ډیر عالي او ظریفانه ډول په کورا سوچه ژب- ښکلا ییزه او ژب- اندیزه توګه انځور شوي دي. د بېلګې په توګه یې دا شعرونه لولو:

د بد خشا ن لالونه

نور دې د ښایست ګلونه نه ستایم

ستا د سپین مخ شنه خالونه نه ستایم

سترګو دې زما هستې لمبه کړله

دا نشه نسکور جامونه نه ستایم

ډېر دې کړم راښکېل په اوږدو زلفو کې

نور دې دغه تور دامونه نه ستا یم

ورک شو درنه ځان په ډېر ستاینګ زما

بس ستا کرشمې نازونه نه ستایم

مینه کې چل ول ریا ځایېږي نه

ستا دا د ریا چمونه نه ستایم

شوې چې پېغلې شونډې یې سور اور راته

نور د بدخشان لالونه نه ستایم

...

او یا:

د جنتو پرښتې

پـــــراهریـــمنـــو شپـــو مې بري د سپېدو پرښتې

د اهورا د لمر مزدک د پـــــلوشـــــو پـــــرښـتــې

ستا د ګلپېغلو تورو سترګـــــو د خـــوبـونو الهام

راوروي د ســــرو غــــزلـــواو نغمـــو پـرښـتې

د اسمــــانـي ښـایـست ښکلا سراسري سیالۍ کې

تا میدان وړی دی لــــــه واړو پـــرښتـــو پـــرښتې !

...

اویا:

## د چوپتیا پر اوږو

زه دې ورېم ناز تل د وفا پر اوږو
خو ته مې نیاز وړې د جفا پر اوږو
نور به په مخ کې ستا یو آه نه کاږم
که کړې در ښبت ستا د موسکا پر اوږو
ورته پر سترګو مې تیاره شي له ځایه
چې زلفې ناځې ستا پر اوږو
ښکارې پر مینه مې باور نه لرې
دا چې ږدې ژمنې د سبا پر اوږو...

...

اویا:

## مېلمه یا ل زړګی

دا پر زړه مې تېر یادونه د جانان دروميې را دروميې
که شپې زما د اوښکو دباران دروميې را دروميې
دا د چا لیلا د مینې لېونې بلهارې شوې
ویرژړلې، برېبوکې چې دبیابان دروميې رادرومي
تل سمسوره پسرلي یې د ښایست د باغ ګلخانې

پر ګلیون یې واړه ښکلي د جهان د رومي راد رومي

دا راوړي بوی د لونګو سپرلنی نسیم له د ښتو

که ورېمي یې د کمځو د شبستان د رومي راد رومي...

...

یا یې دا وروسته غزلیزې بېلګې:

## د پا کې مینې کور

دریغه چې دا ستا د پېکي ګل نه شوم

ستا د ګل ښایست د بڼ بلبل نه شوم

تا خو مې پر سر د زلفو سیورې کړ

زه خو ستا پر سر ښاخ د سنبل نه شوم

پښو کې د ناز شین دې سپینلي غوندې

دود دې نظر مات ته د کاکل نه شوم

جوړ دې زه وېده لکه د زلفو مار

ستا د چندړ ځانګې پر څنګل نه شوم

یم خو لا اغزی د د ښنو سترګو کې

سکینده که د خپل زخمي ګوګل نه شوم...

...

او یا:

د سپوږمۍ د څڼو سیوری

که دا ستا پر سورکو شونډو، د پېزوان سیوری پرېوتی

خو پرما ستا د وربل، د شبستان سیوری پرېوتی

پر تبجنه سپېره دښته، د ځانګغوځ نیمه خوا زړه مې

ستا د یاد د تلسمسور، نارنجیستان سیوری پرېوتی

د لمر تندره یې مه بوله، پر لمر ناز پلوري سپوږمۍ خپل

دا له څڼو یې د وړانګو، پرجهان سیوری پرېوتی

دا ځلا مې سپېدې لوني، د برخلیک پر توره شپه بیا

چې پرې هسې لارې لارې، نیمروښان سیوری پرېوتی...

...

دکوشنیو شعرونو بیلابیلې پېیلې او نا پېیلې بیلګې چې د استاد زیار په نا چاپې ((جیبي لړۍ))کې راغلي:

١- انځوریزې بیلګې (illustrated poem):

بادوباران

باران

کښي په پستوګوتو

څه پستې پستې سندرې

څه خوږې خوږې بدلې...

خو،

د باد دې

غبرګ لاسونه

چورلټ مات شي

چې يې څومره

زړه راکښونکې

مينه وړې تراني

راولوټلې !

(۲۰۰۵/۱۰/۳۰)

## د کتولا سليک

په نن او په سباکې

د برکلونه ولاړه راغله،

او زما برخليک

لاهسې دی

په تمه

ستا د سترګو په دوتر کې،

ستا ديو کتولا سليک ته !

(۲۰۰۵/۱۰/۳۱)

۲- څلوریزې:

**دپېړۍ ترانې**

دخونړیوتوروشپوپه زړه کې

ماسرې بوللې دمهال بوللې...

سرې سکروټینې ترانې دپېړۍ،

دوینې وینې چاپېریال بوللې!

ډنمارک، (۲۰۰/۱۰/۵)

اویا:

**سم هوډ**

سازېدل له زمانې سره اسان دي

زمانه سازول ځان سره زه غواړم

ساز ناسازې زمانې سره به نه شم

څه پروا که راغلم راغلم، لاړم لاړم

(۲۰۰۵/۸/۱۹)

۳- داهم له نوییمو کلو راهیسې داستاد زیارد رادود کړي پېیلی څېل (نظمي ژانر): یوه بېلګه:

**ټپیزه**

شوم راپردېس له خپل میهنه،

له خپل ژوند ژواک، لاړو لوړ ونه،

ته واساوو ځي له بدنه...

له مانه پاتې شوې وطنه،

که خمزوري دې ګلاب شي څه يې کړمه !

(۲۰۰۵/۱۰/۲۷)هم له نوييمو

۴- سپينې ټوټې:

په لکړه او په ککړه

وګړي پر درو ډلو وېشنه مومي:

ذهني ډله،

لکه د ګبينو مچۍ

خپل او د نورو ژوند ته

خوږلني ببښي؛

خپلځاني ډله،

لکه مېږي

چې ټوله خواري يې

د خپل ژوند چلند لپاره

ځانګړې کړې ده؛

غلنۍ ډله،

لکه غنمې

چې دنورو د ژوند ژواک

د لوټونې لپاره

جالونه غړي !

اويا :

ګران او نا ګران مېلمه

د هر ګران مېلمه هغه دی

چې کور به يې

په راتلو خوشاله شي

او په بيرته تلو

خواشينی شي.

له ګران مېلمه هغه دی

چې کور به يې

هم په راتلو خوشاله شي

او هم په بيرته تلو...

او

کرد سره نا ګران هغه نابللی مېلمه دی

چې کور به يې

په راتلو خواشینی شي

او په بیرته تلو خوشاله !

(۲۰۰۳/۹/۱۱)

او یا:

سپېڅلي، که ناولي؟

د بنستپالو

ترهګري او ترونګري

سپېڅلي نه،

بلکې تر ټولو

ناولي جنګ جګړه ده.

(۲۰۰۵/۲/۲۹)

او یا:

ناشونې مخامختیا

د زورواکیو په لړ کې

له دینواکۍ سره مخامختیا

په دې نا شونې بربنې

چې تر پنځ و پینې

بهر دی.

(۱۹۹۸/۱۲/۲)

څو سپيني توتې:

## توکم-ګروهه

توکمپال ته

له خپلوهمتوکو

اوګروهپال ته

له خپلوهمګروهو

پرته

بل څوک هېڅوانسان نه ښکاري.

(۲۰۰۵/۱۰/۱۰)

## لمرپرښتي

نمرګلي

له ډېرې لمرپرښتۍ نه

-ګرد سره-

دلمربڼه راخپله کړې ده.

(۲۰۰۵/۸/۹)

## لابتره

پاپ وايي چې:

که نن مې د همنوړو دواده

اجازه ورکړه،

سبا به یې خبره بیزوګانو ته

ورسي !

(۲۰۰۵/۹/۲۰)

لوورځ

د نن چارې

سباته پرېښوول

ناپوهي ده،

پاتې لا

د لوورځې سباته !

ډنمارک، (۲۰۰۵/۷/۲۴)

استاد پوهاند زیارډیردروند، نرم، زغمناک، مات مخی، رښتینی او باوقاره انسان دی، او د ډیرو غورو او نیکو اوصافو او لوړو اخلاقو او انساني خویونو او سپېڅلي احساس ځښتن شخصیت او یو مهربان، مینه ناک، زړه سواندی او خوا خوږی انسان دی. د ده خبرې سپیڅلې، سپینې، رینښتینې، خوږې او درنې دي. د ده په خبرو اترو کې هر وخت د انسان او انساني کرامت درناوی، له خپل ولس ژبې او فرهنګ سره ژوره مینه څپې وهي او په ذهن کې یې د ملي یووالي، وروری او برابرۍ موخه او مرام له ورایه راڅرګندېږي.

د استاد زيار د پيژندګلوي په اړه يو شمير ليکوالو او څيړونو الو کار کړی دی، خوزما پر اند دی هغه ستر، پوخ او پياوړی هر اړخيز ټولنيز، سياسي ، ملي، علمي، ادبي او فرهنګي شخصيت دی، چې بايد نور هم د ده پر نوښتونو ، علمي، ادبي او فرهنګي آثارو څيړنې او پلټنې وشي، او د قلم د ځواکمنو او با صلاحيتو درنو ليکوالو ، او اکاډميکو څېړونکو له خوا دا کار تر سره شي. همدا دارنګه په کارده، په اړه يې ستري څېړنغونډې، سيمنارونه او سمپوزيمونه جوړ شي، چې يو خوا دا علمي ،ادبي او فرهنګي غښتلې مشر، چې شکر لا ژوندی دی، ونازول شي او ونمانځل شي او بلخوا يې دآثارو ارزښت او د ده علمي، ادبي او اکاډميک شخصيت، اوسنيو او راتلونکو پښتونو( نسلونو ) ته يو وار په ژوره او سمه سهي توګه ور وپيژندل شي.همدا سې د ډليزو رسنيو او ټولوورځپاڼو ، مهالنيو ، ووبپاڼو(وېبسايټونو ) ، راديوګانو او تلويزونونو له لارې د ده په اړه هر اړخيز معلومات او خبرتياوې وړاندې شي او په دې توګه زموږ د علم، ادب او فرهنګ مينان نور هم خپل ژور معلومات د ده په تړاو بشپړ کاندې. ما هم په خپل توان يوه هڅه وکړه چې د استادزيار په اړه يو څو کرښې وليکم او يوه ادبي مرکه ورسره برابره کړم. په دې هيله چې زموږ د پښتني- افغاني ټولنې د پوهې او بيا پښتوژبې او ادب مينان ورته را وځکولای شم !

ګران او مشر ورور استاد زيار صاحب، زما نيکې هيلې او پېرزوينې ومنئ او اجازه راکړئ، چې خپلی پوښتنې درسره شريکې کړم !

مسعود_ ځينې ليکوال او شاعران وايي، چې شعر څلور توکه (فکر، احساس، تخيل او آهنګ ) رانغاړي، خو تاسې د يوه ژبپوهاند او ورسره ورسره د ادبپوهاند په توګه په خپل اثر ((پښتو بدلمېچ- پښتو شعر څنګه جوړېږي؟ ) ) کې د غه شمېره پېښځه ښوولې، هيله ده، ورباندې رڼا واچوئ !

زيار_ ړومبی ستاسې دا پښتني مينه په پښتني مينه او مننه درغبرگوم او بيا يې درته له همدې غبرگونه را پيلوم !

د شعر د رغنده توکو (متشکله اجزاوو) فارموله د لندن مېشتي ايراني فلسفي- ادبپو هاند ((اسما عيل خويی)) له دې وراشې (وجيزې) آره اخېستې چې وايي: ((شعر ارتباط عاطفی انديشه و خيال است در زبان فشرده و آهنگين))، په دې ډول ((ژبه- آهنگ- احساس- انديشه- خيال)) څلور، نه بلکې پېنځه توکه را اخلي، نو ما يې پښتو انډول هم (ژبه- تول- اند- واند- ولوله) ښوولي چې د ((بدلمېچ)) يو بشپړ مخيز (پېنځم) ځېرکی مې ورځانگړی کړی دی. په دې لړکې مې تر هرڅه له مخه د ژبې هراړخيز او رغښتي (ماهيوي، سرشتي) نقش ښه ترا جوت کړی دی. ځکه ادب او بيا شعر له آره ((ژبنی هنر)) دی او پنځنه او پېژندنه يې له ژبې پرته ناشوني برېښي، په هره کره کتنه او ارزونه، لکه اروا پوهيزه، ټولنپو- هيزه، ښکلا پوهيزه، فلسفي او بل هر ډول کې يې ژبپو هنيزه هغه لړوډ پره ونډه لري. دوه گونې ((ژب- ښکلاييز)) او ((ژب- انديز)) ټولمنلې ټولۍ (مقولې) هم د ژبنې توک د څو اړخيز نقش او ارزښت رازبادوي. دغه نور څلور توکي چې دا هم پر خپل وار له ژبې پرته شتون نه شي درلوداى، هم ډېرى خرگندونې غواړي، د ساري په ډول د ((اهنگ)) تر نامه لاندې د شعر تخنيکي، هنري او بيا موسقيت(تول وتال، قافيې، رديف...) ټول سره را غونډېږي، چې بيا يې هم د بدلمېچ ياد شوي ځېرکي ته گوته نيسو. له دې کبله ستاسې د ووبپانې مينه وال کولای شي، په ((سمسور)) هغه کې يې تر کتنې تېرکړي.

مسعود_ تاسې په شعر کې د فلسفې او اروا پوهنې په رڼا کې سېمبولونه څه ډول څېړئ؟

زیار_ لومړی د فلسفي سېمبولو په تړاو: ادب او په تېره شعر په خپل بشپړتیا یي پړاو کې له فلسفې سره لږو ډېر تړاو لرلی، په ځانګړې توګه له تصوفي کېدو سره، ځکه تصوف د ایډیالېستي فلسفې یوه برخه جوړوي. پښتو شعروادب ته یې هم د زاړه پېر په پای او د منځني پېر په پیل کې، له روښانی ګروهیز- ټولنیز غورځنګ سره لاره موندلې ده. د نوي پېر شعرو ادب، په ځانګړی ډول نوي او ازاد شعر چې تر بل هر مهالپېره فکري توکی ښه ترا رانغاړي، ان تردې چې فلسفي اند (تفکر) نن سباد نومها لي شعر په اړینو توکو او بېلتیاوو کې ځای نیولی دی. اړوندو انځورونو او سېمبولو نو یې هم زیات ذهني، رواني او فلسفي رنګ اخېستی او مانیزوالي او ټولیزوالي ( مجردیت وکلیت ) یې پیاوړتیا موندلې ده؛

دویم: اروايي یا رواني سېمبولونه د فرود بزم له ګوتپېره څېړل کېدای شي، هغه داچې د هریوه سېمبول آره او ریښه په ناځانخبری(تحت الشعور ) کې پلټي. هسې خو دغه اروا شنیز (سایکو انالېتیک ) ښوونځی هره هنري او ادبي پنځونه په ټولیزه توګه د اړوند پنځګر(ایجادګر ) د هغوټولنیزو او په ځانګړي ډول، نوړیزو(جنسي ) بېبرخیو زېږنده بولي چې له وړکینې یې تحت شعور ته پنا وروړې او همله ته پسې زېرمه شوې، او ځانخبرې دا ، یانې سول(عقل، خرد ) یې د څرګندونې له توغه وتلای نه شي، نو هنرمند او بیا شاعریې د تخیل په مټ نالیدوړ خیالي او رواني سېمبو لونه رغوي او دغه چاره کېدونې کوي.

مسعود_ د پښتو په کلاسیک ادب کې د خوشحال خان ، حمید مومند او رحمان بابا ادبي ښوونځي یا مکتبونه اوڅارتیا ( شهرت ) لري. ایا په پارسي ادبیاتو کې هم داسې ادبي مکتبونه شته او که نه؟ مهرباني وکړئ، په دې اړه په لنډه توګه مالومات را کړی؟

زيار_ د ښوونځي، په بله وينا ، -ابزم له پلوه يو ازې زمونږ دغه درې نوموړ ويناوال، لاځه چې زمونږ د منځني ادبي- پېر شاعران له لويه سره د همپېري(هم دوره ) پارسي روما نتيسېزم، او د سبک له پلوه يې هم د خوراساني هغه پيليوني دي او په ترخ ترخ کې يې ډېر لږ د هندي سبک. په دې مانا چې د هندي- پارسي سبک په پښتو لاروپانو کې يې له حميد او په ځانګړي ډول کاظم شيدا پرته د بل چا څرک نه لګي، که وي هم د دغو دوو ويناوالو ، په تېره د حميد په پليونو کې راځي، لکه واخلې، قلندر اپريدی، عليخان اشنغری، حنان بارکزی او داسې نور چې ښايي له يو ګوتشېره تېری ونه کړي. خوشال هر ګوره، پردې سربېره چې رومانتيسېزم يې تر ډېره پښتنی کړی، د پښتو رياليزم يو بنسټوال هم دی. رحمان باباد تصوفي شاعر په نامه نوماند شوی او هغه هم له اوو ګونو ، يا په بله اندتوګه، څلورو مقامونو څخه يوازې((عشق ) ) راخپل کړی او تربل هر همپېري يې پکې د مجاز و حقيقت ترمنځ کرښه څه ناڅه ښه ترارا کښلې ده. د ده زيات ګرانښت و منښت هم د دې زېږنده دي چې د پښتني ټولنې له دوديزو-ګروهيزو ، اخلاقي، کولتوري او ټولنيزو ارزښتونو او اندو روان سره يې زيات اړخ لګولی او په دې توګه يې مينه وال او لاروپان هم تر نورو زيات دي. د پښتو تصوف پاموړ نوميالي په زاړه پېر کې شيخ متي او په منځني کې بايزيد روښان، ارزاني، انصاري او د روښاني غورځنګ نور پليوني دي. تر هغه راوروسته ستر خوشال تر بل هرچا تصوفي شاعري ښه ترا ازمايلې ده. په هرډول له دغه نوميالي پرته، نه حميدو شيدا د کوم خپلواک سبک و ښوونځي بنسټوال بللای شو او نه رحمان بابا ، بلکې د بېلابېلو لارو او بهيرونو سرلاري يې نومول کېدای شي...

پارسي زوړ او منځنی پېر هم پر مکتبونو ، نه، چې پر درېګونو سبکو وېشنه مومي: خراساني، عراقي او هندي، په ترخ کې يې هرګوره، لارې او بهيرونه(جريانونه ) ښايسته ښه ډېر دي.

مسعود ـ زمونږ یو شمېر لیکوال پر دې گروهه دي، چې په پښتو کې د شعر په پرتله باید نثر ته زیاته پاملرنه وشي، په دې اړه ستاسې لید څه دی او دا راته ووایاست چې د پښتو ادب د نثرونو ښوونځي لکه: د سلېمان ماکو ، د بایزید روښان ، د خوشحال خان خټک ، د منشي احمد جان او داسې نور مکتبونه د پښتو ژبې د ودې او پرمختگ لپاره څومره نقش واغېز درلودلی دی؟

زیار ـ تر هر څه له مخه په کارده، ادبي او ټولیز ژبنی - لیکنی نثرسره جلاکړو، ځکه ډېر پښتانه لیکوال تر دغه منځ توپیر نه کوي. ادبي نثر له ادبي ټوټو، په بله وینا، ناپېیلي شعر او طنزو تکله رانیولې، تر داستاني او ننداریز نثره گرد ناپېیلی ادب رانغاړي، او ټولیز هغه، له رسنیز (ژورنالېستیک ) نثره رانیولې تر څېړنیز، په بله وینا ، پوهنیز او ساینتیفیک نثره پورې ټول راخلي، که ستاسې موخه ادبي نثروي، نو تر ((نظمه )) یې پله درنه ده، نه له ((شعره )) او په کارده، پاملرنه ورته وشي. د سلېمان ماکو او روښان هغه، په پوهنیزو - څېړنیزو کې راځي او د خوشال نثر، لکه د طب نامې د ستارنامې، اخلاق نامې ، فراق نامې، فرخنامې ... هغه ادبي نه، بلکې یو څېړنیز نثر دی، همدا راز یې د ((هدایې )) ژباړه هم دروا خله او ادبي ژباړه یې بیا ، لکه واخلې د ((بهاردانش )) ژباړه ((عیاردانش )) هغه په ټوله مانا یو ادبي نثر دی. په دې ډول دغه نور ((نا ادبي )) نثرونه د ژبني سبک یا لیکلارې له گوټپېر (زاویې ) څخه ارزول کېږي.

همداسې د منشي احمد جان نثر هم یو مخیز په ادبي یا هنري هغه کې نه راځي، ادبي هغه یې د ادبپوهنیز آرونو په رڼا کې ارزول کېږي او نا ادبي هغه یې د ژبپوهنیزو هغو په رڼاکې. همدا راز له راحت زاخېلي تر وکیل سوله مله، داستاني نثر په ادبي هغه کې راځي او کره کتنه یې هم لومړی له ادبي شننې او ارزونې راپیلېږي او هله یې ژبنۍ هغه په پام کې نیول کېږي. د یونلیکونو، ژوندلیکو نو ، ځانپېښلیکونو (اټوبایوگرافیو ) او ان رسنیو نثر هم کېدای شي، د دغو نورو ډولونو په لړکې لړ و

ډېر ادبي رنګ و خوندراخپل کاندې، خو دا په لیکوال اړه لري، د بېلګې په توګه د شهرت ننګیال د یونلیکونو ژبه د پسرلي او کاروان له داستاني نثر سره اړخ لګوي. په پر مختللي لویدیځ کې یو هسې ګوزارش له دومره ادبي انځورونو او سېمبولونو راپیلېږي چې لوستونکی بېوا که ځانته ورکاږي، خو بیا یې هم ادبي نه بولي. ورته هڅه په پښتو کې دومره نه لیدل کېږي، لاسوند یې هم دا چې زموږ زیاتره رسنوال له آره لیکوالي ازمېښت او مخینه نه لري او د رسنوالۍ پر خپلسري ازمېښت یا زده کړه بسیاپاتې وي.

د سلېمان ماکو ژبه ګړنۍ پښتو او بیا نننۍ لیکنۍ پښتو ته ډېره نژدې ده. خو د بایزید هغه د قرآن او حدیث، په تېره د((سورهٔ رحمن)) په پلیونۍ کښل شوی او د تول و تال له لامله((مسجع نثر)) بلل کېږي چې د روښانه ننګرهاي یې هم په پېښو مخزن په ورته ژبنۍ لیکلار کښلی دی. خوشال بیرته پښتو ته راړولی او په دې توګه یې له پېیلې وینا سره یوځای د یوې- کره لیکنۍ پښتو ټولمنلی سرلاری بللای شو. منشي احمد جان(مړ ۱۳۳۰ش) د وسمهالي ادبي پېر د ادبي یا هنري نثر بنسټوال بلل شوی، په داسې ترڅ کې چې له دغه پلوه ترې راحت زاخېلي(۱۳۰۴ق-۱۳۴۲ش) لږ تر لږه یوه لسیزه مخکې دی او په ټولیز یا څېړنیز نثرکې مولوي احمد(۱۲۶۱-۱۳۰۱ق) او میر احمد شاه رضواني (۱۲۷۹ق-۱۳۵۳ش) مخکښان بلل کېږي. د زاخېلي ادبي نثر د راوروسته لیکوالو لپاره د داستاني نثر او د منشي هغه د ادبي ټوټو او طنزو مخبېلګه ګڼلای شو، خو ښوونځي په هره توګه، چې د کوم ځانګړي یا ځانتني سبک یا لارې لېږې نوم هم ورکولای نه شو.

په دې کې څه اړنګ برېنګ نشته چې د نوموړو څلوروارو مخکښانو هنري او ناهنري ناپېیلې پنځونې د نوي پېر ادبي او کره پښتو بهیر ته پیلامه او مخبېلګه شوې او په وده وش کې یې یو په زړه پورې تاریخي نقش و رسالت تر سره کړی دی.

مسعود ـ په لویدیزو شعرونو کې شعري مبالغې ډېرې کمې لیدل کېږي او شاعران زیاتره عیني واقعیتونه په خپلو شعرونو کې ځلوي. تاسو دا لامل څه ډول څېړئ؟

زیار ـ زما د پرتلې له مخې دا خبره سمه ده. له دې سره سره چې د لویدیځ په کلا سیک او ان انتیک شعر کې د عیني انځورونو تر څنګ ذهني انځورونه او بیا سېمبولونه ښایسته ډېر لیدل کېږي، خو له ښندې(مبالغې) پورته، یانې د ((غُلو)) تر بریده یې نه رسوي. د ساري په ډول د غلته د یوزرویو شپې(الفَ لیلَ) کیسو ورته بېلګه هېچېرې او هېڅکله نه ده موندل شوې او دوی یې هم منښته کوي. یا د انوري د دې غُلو انډول چې وایي: ((نه فلک اندیشه نهد زیر پای ـ تا بوسه برپای قزل ارسلان زند)) او داسې نورې بېلګې.

مسعود ـ که دلویدیزو ادبي او هنري مکتبونو، لکه: ریالېزم، سمبولېزم، کلاسېزم، سور رېالېزم او رومانتېسېزم په اړه لنډ مالومات راکړئ او دا راته ووایاست چې ادبي اوهنري مکتبونه پرکومو بنسټونو رامنځ ته شوي او د تاریخ په اوږدو کې یې د لویدیځ او بیا ختیځ هنر و ادب څه اغېز پرې اېستی دی؟

زیار ـ د ګردو ښوونځیو تاریخچه راسپړنه د ادبي متنپوهانو کاردی او زه یې د زغم او وخت د سپماله کبله پر یوه ټولیز جاج بسنه کوم. هنر او بیا پوهه-تخنیک بویه په ګډه انسان ته دومره ځواک او وړتیا په برخه کاندې چې د پنځ(طبیعت)، ټولنې او ځان(نفس)د زور و جبر پر وړاندې و جنګېدای شي او په پای کې ترې بشپړه ازادي او خپلواکي ترلاسه کړي. دا سمه ده چې یادشویو ښوو نځیو پر بېلابېل کچ و مېچ د دغه انساني ارمان په خړوبونه کې برخه بنده اخېستې، خو د ریالېزم هومره نه. ګویتې(۱۷۴۹-۱۸۳۲)، شېلر(۱۷۵۹-۱۸۰۵)، بالزاک(۱۷۹۹-۱۸۵۰)، هوګو(۱۸۰۲-۱۸۸۵)... ولې د اتلسمې او نولسمې پېړۍ په دې ټولمنلی نړیوال نوم ګټلی وو چې

په رومانتېسېزم کې يې يو انقلاب راوست او بشپړ ريالېزم او بيا انتقادي ريالېزم ته لاره هواره کړه.

پس نوېوالي، فرانوگرايي يا پوسټ مودرنېزم، که څه هم نويو اېزمونو ته لاره هواره کړه، خو له بده مرغه تر اکتوبر انقلاب را وروسته گردو د ټولنوال ريالېزم پر وړاندې مورچه بندي وکړه او د پانگوالي او بورژوازي نظام په گټه پرېوتل ، لکه ، اکسپرېشنېزم، اېمپرېشنېزم، اېکزېستېنسيا لېزم... ( surrealism )سورريالېزم او اوس اوس د سورريالېزم يو بل بچې(کوډگر يا مېجيک ريالېزم) راميدان ته شو چې په بازاري سيالۍ کې تر دغو گردو انتي ريالېستي ښوونځيو مخکې دی، لکه واخلې د انگرېزي ليکوالې ((هري پوتر)) نومی ناول چې په دغه دوه درو کلو کې يې يوازې ليکواله، نه، بلکې خپرنوال او فېلموال د نويو ميليونرانو په نوملړ بيايو داسې سېمبولېزم (synthetism)کې راوستل. دگډوله ښوونځي سېنتېتېزم دی چې له آره د ريالېزم او اېمپرېشنېزم په غبرگون(عکس العمل) کې رامنځته شوی، خو زما پر اند دغه نومونه د وييزې(لغوي) مانا له مخې ننيو دودو لارو او بهيرونو لپاره پر کار اچول کېدای شي. ځکه نن سبا زياتره هنري او ادبي پنځگر(ايجادگر) د يوه يوازېني ښوونځي پليوني نه دي. د ساري په ډول(ريالېستان) په ترخ ترخ کې هممهال د((هنري)) او((ارمان)) ارمان د ښه ترا رانغښتنې په پار له سېمبولېزم او رومانتېسېزمه هم پوره کار اخلي. همداسې رومانتېست غزلبول په خپلو انځورونو او سېمبولونو کې لړو ډېر ټولنيز پيغام هم رانغاړي.

له دې سره سره، دا څه هېښنده او نا باوروړ نه ده چې له همينگوې(۱۸۹۹-۱۹۶۱/ پر ۱۹۵۴کال ) او شولوخوف(۱۹۰۵-۱۹۸۴پر ۱۹۲۵کال) را نيولې تر اوسه د نوبل جايزې وړونکي زياتره د انتقادي او ټولنوال ريالېزم لارويان دي.

پر پښتو شعر و ادب د انتقادي ریالېزم څرک د لرې پښتونخوا د هماغو یادشویو نثر لیکوالو او د ټولنوال هغه سیوری بیا له صنوبر کاکاجي رانیولې تر اجمل خټک، امین الحق امین، سیف الرحمان سلیم، رحمت شاه سایل، اسحاق ننګیال، غفور لېوال، علي ګل پیوند ،اکبر سیال، صاحب شاه صابر، ډاکتر اسرار، ایوب صابر، بشر نوید ، فضل عندلیب، روغاني اشنغری ...پر لروبر وینا والو پرېوتی دی.

د پوست مودرنېزم پریاد شویو اېزمونو سربېره له پخوانیو ښوونځیو او سبکونو سره د ((نوي-)) ستاینوم یا موډیفایر په مختاړونه نور هم سرباري شول، لکه نوی کلاسېزم، نوی رومانتېسېزم، نوی سېمبولېزم... او په پا پای کې د (اردو) نوي هندي وزمه رومانتېسېزم چې پښتو شاعران ځنې په بېلابېل کچ و مېچ ښایسته ډېر اغېزمن ښکاري، لکه: استاد حمزه شینواری، مراد شینواری، لعل باچا شینواري، زړه سواند شینواری، خیبراپریدی، اشرف مفتون، ...خلیل، رووف زاهد، قمر اندیش، قمر راهي، صدیق پسرلی، نواز طائر، اعظم اعظم، اکرام الـه ګران، پیر محمد کاروان، مصطفی سالک، لال پاچا ازمون، سید صابرشاه صابر، اجمل اند ، عبداله پیکار، نظیف تکل، افضل ټکور، جېلاني جلان، اومان نیازی، ډاکتر ذبیح حسن، ډاکتر اکبر اباسین یوسفزی او په ټولیزډول درست نوښتګر غزلبول.

د نوي کلاسېزم استازی پوهاند مجروح دی او شاګرد او اسپستانت((اروا ښاد)) اسد اسمايي يې هم تر خپل مهینه مرګ کال دوه وړاندې تازه پر پله پل اېښی وو. په اېکسپر ښنېزم کې سم له لاسه د باري جهاني څرک لګولای شو او ښايي، بل استازی يې و نه شوموندلای!

په ډېر درنښت او ادبي مینه: انجنیرعبدالقادر مسعود

(( ددې مرکې دویمه برخه به بل ځل ګرانو مینه والو ته وړاندې شي))